د افغانستان اسلامي امارت

**ستره محکمه**

**د دارالانشاء عمومي رياست**

**د تحريراتو آمريت**

**د متحدالمآلونو څانګه**

د متحدالمآل ګڼه: **۳۷**

نېټه: ۱۴۴٤/٥/۲٥ هق

☐ عاجل ☐ عادی ☐ اطمینانیه ☐ ابلاغیه ☐ سایر

---

د افغانستان اسلامي امارت د تميز ونو ، دېوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو قدرمنو منسوبينو ته!

السلام عليکم ورحمت الله وبرکاته

وبعد: د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر(۳٤)مورخ ۱٤٤٤/٤/۲۹هق په تعقيب داسي ليکو:

د ځينو محکمو استهداآت رارسيدلي دي چې خلاصه يې په لاندي ډول ده:

((د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست په متحدالمآل نمبر(۳٤) مورخ ۱٤٤٤/٤/۲۹هق کې داسي هدايت شوی: (...په نورو ولايتونو کې د مخدره توکو د موضوعاتو د حل او فصل صلاحيت د اړونده ولايت د ښهري محکمې د امنيت عامه ديوان سره دی، البته په مرکز کابل کې دې د زونونو امنيت عامه ديوان ياد موضوعات نه اخلي.)

د پورته ذکر شوي متحدالمآل په باره کې يې د هدايت غوښتنه کړې ده چې آيا په ولايتونو کې د ښهري محکمې د امنيت عامه ديوان د اړونده ولايت د ټولو ولسواليو مخدره موادو د موضوعاتو د بررسۍ صلاحيت لري؟ يا يوازې د مربوطه ولايت د مرکز اړوند د مواد مخدر موضوعاتو د حل او فصل صلاحيت لري؟)

پورته ذکر شوې استهداء مو د ستري محکمې محترم عالي مقام ته پيشنهاد کړه، عالي مقام يې په اړه داسي هدايت وکړ:

((د ستري محکمې د دارالانشاء عمومي رياست د متحدالمآل نمبر (۳٤) مورخ ۱٤٤٤/٤/۲۹هق د دغه متن: (...په نورو ولايتونو کې د مخدره توکو د موضوعاتو د حل او فصل صلاحيت د اړونده ولايت د ښهري محکمې د امنيت عامه ديوان سره دی...) څخه مراد د اړونده ولايت مرکز او ولسوالۍ دي نو په دې اساس د هر ولايت د مرکز او اړونده ولسواليو د مخدره توکو ټول موضوعات دې د مربوطه ولايت د ښهري محکمې په امنيت عامه ديوان کې حل او فصل شي.))

بناءً د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې د محترم عالي مقام پورته ذکر شوی هدايت ددې متحدالمآل په توسط د افغانستان اسلامي امارت د ستري محکمې مربوط رياستونو، تميزونو، ديوانونو، مرافعه او ابتدائيه محکمو ته واستول شو تر څو د هغې په رڼا کې شرعي او اصولي کړني تر سره شي.

په درنښت

مفتي عبدالرشيد "سعيد"

د ستري محکمې

د دارالانشاء عمومي رئيس

ستره محکمه
ریاست عمومی دارالانشاء

---

Address: Public health Square 9th District, Kabul-Af
Phone: 0202301138
Post box: 1989
Website: www.supremecourt.gov.af

پته: د صحت عامې څلور لارې، نهمه ناحيه، کابل- افغانستان
ټيلفون: ۰۲۰۲۳۰۱۱۳۸
پست بکس: ۱۹۸۹
secretariat@supremecourt.gov.af